# ماشوم د نیوکې پر وړاندې ناسم غبرگون ښیي - څه ور زده کړل شي؟

**ژباړه: محمداجمل روهي**

له نیوکې سره په ژوند کې هر څوک په دوامداره توگه مخ کیږي. د نیوکې د زغملو توان خو د لویانو له وسه هم زیاتره وخت پورته وي، د هغو ماشومانو لپاره چې تازه دا مهارت تر لاسه کوي چې خپل احساسات کنټرول کړي، دا مساله لا ستونزمنه ده.

داسې حالت او عامې صحنې به تاسو ډېرې لیدلي وي چې: ماشوم له وړکتون، ښوونځي، درس یا سپورټي تمرین څخه اندېښمن، مرور او یا ښایي حتی غوسه ناک کور ته راستنیږي. کله ناکله د ماشوم غبرگون یوازې تر خراب مزاج یا خپه کېدو پورې نه محدودیږي. ماشوم کېدی شي دا اعلان وکړي، چې نور نه غواړي ښوونځي ته ولاړ شي او یا له هغو خلکو سره خبرې وکړې چې پر ده یې نیوکې کړې دي او داسې نور.

## د مور او پلار غبرگون باید څه ډول وي؟

لومړی مهمه خبره دا ده چې په هیڅ صورت باید پر رامنځته شوي حالت باندې سترگې پټې نشي او دې ته په تمه نشو، چې هر څه به په خپله حل شي. خبره د خپه کېدو نه ده. د ماشوم خپگان او یا خراب مزاج ښایي ډېر زر له منځه ولاړ شي. اړینه دا ده، چې ماشوم ته د نیوکو پر وړاندې سم غبرگون، ارزونه او د پایلې ترلاسه کول ور زده کړل شي. دا ډول زده کړه د راتلونکي لپاره په ټولنه کې او د مسلکي او شخصي اړیکو لپاره ضروري ده.

دوهمه دا چې په رامنځته شوي حالت کې سمدلاسه پر ماشوم باندې د زړه سوي او ویش — ویش کولو هڅه او د ده د کړنو پخلی ونشي او مقابل لوری ورته ملامته وبلل شي. د والدینو مینه باید «ړنده» نه وي، له همدې کبله وروسته له دغه لومړي جملې: «گرانه/ نې، مه خپه کیږه» وروسته دا جمله راشي: « څه پېښ شوي اول ټوله کیسه راته وکړه او راځه چې په گډه پرې خبرې وکړو».

دا زده کړه ډېره مهمه ده، چې ماشوم له یوې خوا د خپل دریځ پرېښودو ته زړه ښه کړي او له بل پلوه د پردیو نظریاتو درناوي ته را وگرځول شي. دا ناممکنه ده، چې د مشرانو نظریات په بشپړه توگه رد شي.

## ماشوم ته یې څه ډول توضیح کړو او څه ډول مشوره ورکړو؟

کله چې خبرې پیل کړئ دا په یاد ولرئ، چې خبرې مو د تبلیغ په څېر نه وي. ماشوم په دې ملامت ندی، چې منفي احساس لري. د احساساتو کنټرول، شننه او د نیوکې پر وړاندې د سم غبرگون د چلند زده کړه - له ماشوم سره د «بحثونو» موخه ده. ولې د «بحثونو» کلمه د جمع په ډول راوړل شوې؟ ځکه چې داسې و نه انگېرل شي، چې په یو وار به ستونزه حل شي. راز راز حالاتونو او ستونزې دي، پر ماشومانو یې اغېز، منل او د دوی غبرگون هم یوشان نه وي.

ښه، نو د مور او پلار لپاره په دې ډول یو حالت کې څه ویل اړین دي؟

### 1. لازمه نده چې نیوکه د چا د خپه کولو لامل وګڼل شي

د ماشــوم لپاره دا توضــیح ډېره مهمه ده، چې د ښــوونکي یا مربي لخوا د انتقاد کولو موخه د ده خپه کول ندي. دوی د دې لپاره نیوکې نه کوي چې ماشوم خپه کړي یا یې بد ایسېږي، یا دوی په دې غوسه دي چې دوی تېروتنې کوي. په دې توګه لویان خپل لید بیانوي او تېروتنې په ګوته کوي.

یو ډېر ساده مثال به وړاندې کړو: ماشوم له واقعیت نه لېرې ډېر لوی ګلان رسم کړي، چې په انځور کې د ونو په اندازه ښکاري. که څه هم ماشــوم د ګلانو انځورګري ښــایســته کړې، خو ښــوونکی نیوکه کوي چې ګلان یې ډېر غټ رســم کړي او یا نور دې ته ورته نیوکې.

اړینه ده ماشــوم ته توضــیح ورکړل شــي، چې په دې ډول رامنځته شــوي حالت کې له ښــوونکي خوابدي کېدل ســم کار ندی. له ماشــوم نه وپوښتئ: نو دغه رسم شوي ګلان په رښتیا غټ ندي؟ په باغ کې دي کله دومره لوی ګلان لیدلي دي؟ ښوونکې غوښتل همــدا خبره تــا ته وکړي». ماشـــوم باید په دې پوه شـــي: هغه څه چې د ده لپاره یوه ځورونکې نېوکه وه - په حقیقت کې د ده د فعالیتونو په هکله د بل چا نظر دی.

### 2. نیوکې ته ځواب ویل اړین او زموږ حق دی

نیوکه - د غلي کېدو، خوابدی او یا ژړا لپاره دلیل نشي کیدی. ماشوم باید په دې پوه شي، چې نیوکې ته ځواب ویل یې حق دی. ماشوم ته مو مشـوره ورکړئ، چې مخالف نظر واوري او خپل هم ور سره شریک کړي – دا ورته وښیئ، چې ولې داسې باید وکړي. زموږ په پاس ذکر شـوي د ګلانو مثال کې، د بېلګې په توګه دا دلیل وړاندې کیدی شـي، چې ماشوم غوښتل یوه فانتزي (خیالي) انځور رسم کړي. دا ډېره مهمه ده، چې ماشوم له دلیل ویلو وېره و نه لري.

### 3. خپلې تېروتنې او د نورو مشورې دې ومنل شي

هر څوک تېروتنې کوي، خو مهمــه دا ده چې خپلې تېروتنې ومنو. خپـل ماشـــوم ته ور زده کړئ، چې د نیوکې له امله دې نه خپه کیږي او هغه څه چې ورته ویل کیږي، ورباندې فکر وکړي. نیوکو ته کېدی شي داسې ځواب ورکړو: «زه به یې وازمویم، کیدی شي ســتاســو خبره سمه وي. و به ګورو چې څه ترې لاسته کیږي» یا «زه په دې پوهېدم، چې داسې کیږي، خو ما غوښتل بل ډول یې هم وازمویم».

**نیوکه** ـــ ډیری وخت د سلا مشـورې او د منطقي او مؤثره حللارو وړاندیز وي. دا د خپل ډول مرسـته ده. که چېرې دغه مشوره په رښتیا سره مرسته کولی شي، نو بیا خوا بدول بې مانا دي او باید له مننې سره ومنل شي.

### 4. تند غبرګون (Aggression) ته اړتیا نشته

تند غبرګون ـ په بحث کې دلیل نشی کیدی ـ پر خپل دریځ باندې باید په آرامی سره ودریږو. که چېرې ماشوم فکر وکړي او پوه شي، چې تېروتنه یې کړې، غوره ده چې اعتراف وکړي او د مشورې او مرستې غوښتنه وکړي.

### 5. ولې مشران همیشه نیوکې کوي؟

مشران د فعالیت، حالت او څیزونو په ارزونه کې زیاته تجربه او پوهه لري. او دا خبره یوازې د ښوونکو او روزنکو په برخه کې صدق نه کوي، بلکې د نورو اشخاصو په هکله هم. انتقادي ملاحظات کیدی شي ډېر ګټور وي. خو له بل اړخه دا اړینه نده، چې ماشوم دې مجبوره کړو، چې هرو مرو د هر مشر نیوکه ومني. خپلو ماشومان ته دا ور زده کړئ، چې فکر وکړي او و یې ارزوي.

ډېری وخت سخت خپګان د نږدې خپلوانو (مور و پلار، نیا و نیکه او داسې نورو) د نیوکو له امله رامنځته کیږي. ورته په ګوته کړئ، چې تر ټولو صادقانه نیوکه او انتقاد د نږدې خلکو لخوا وي. او نېوکې په دې هیله کوي، چې مرسته وکړي. حتی که دوی برحقه هم نه وي، نو ترې خپه کیدل او یا د دوی پر مینه شک کول ضرور ندي.

آیا غیرعادلانه او حتی درواغجنې نیوکې هم شته؟ له بده مرغه، شته. د بېلګې په توګه، لامل یې ښایي حسد او یا هم پخوانۍ شخړې وي. دا ډول منفي کړنې نه یوازې د کشرانو بلکې د مشرانو لخوا هم ترسره کېدی شي. نو څکه والدین باید خپلو ماشومانو ته ور زده کړي، چې نیوکې په سړه سینه واوري او ډېر په زړه بوج را نه وړي. لازمه نده کله چې بې عدالتي وګوري کرجن دې شي یا دې تند غبرګون وښیي. تل د دې امکان شته چې پر رامنځته شوي حالت له چا سره بحث وکړو او پر واقعیتونو ولاړ نظر وړاندې کړو، چې د خپلو فعالیتونو او پرېکړو پر سموالي یې قانع کړو.

لیکواله: سوفیا شېفچېنکو

سرچینه: https://www.ya-roditel.ru